ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۳۲

نېټه: شنبه، جمادی الثانی ۱۷ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال





## سرليکنه

د اقتصادي کمېسيون په آخري نوبتي غونډه کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ یوه هم د MCC چينايي شرکت له لوري د مس عينک کان د انکشاف او همدارنګه د پروژې د ژر پيل لپاره تر ځمکې لاندې کان کيندنې نوې طرحه وه چې د بحث لپاره وړاندې شوه. په غونډه کې د يادې موضوع په اړه تر هر اړخيز بحث وروسته د کانونو او پټروليم وزارت په مشرۍ بين الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د وړاندې شوې طرحې په اړه له قراردادي شرکت سره تخنيکي ناستې ترسره او خپل راپور اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.

تر ځمکه لاندې طبيعي زېرمو کې يو هم د مسو کانونه دي. په دې کانونو کې د افغانستان په کچه تر ټولو ستر کان د عينک مسو کان دی. د عينک مسو کان د کابل سوېل لوېديځ په ۳۰ کيلومترۍ کې د لوګر ولايت محمد اغې ولسوالۍ عينک په سيمه کې موقعيت لري. مس عينک په لوګر ولايت کې په دريو برخو؛ مرکزي، لوېديځ او سوېلي کې تشکيل شوی. د ترسره شويو څېړنو له مخې په دغه کان کې ۱۱،۳ مېليونه مټريک ټنه مس تثبيت شوي او اټکل کېږي چې په دې سيمه کې د مسو ټوله زېرمه به ۱۷ مېليونه مټريک ټنه وي. که چېرې ددې کان د استخراج عملي چارې پيل شي، له شک پرته چې د عوايدو کچه به ورسره لوړه او اقتصاد به پياوړی شي. اسلامي امارت دې ټکو ته په پاملرنې سره هڅه کړې چې د ياد کان چارې په عملي ډول پيل کړي؛ خو دا چې لا يې هم د استخراج چارې نه دي پيل شوې، يو لامل يې په ياده سيمه کې د لرغونو اثار موجوديت دی چې تر ډېره بريده يې د کان د را ايستلو چارې له ځنډ او خنډ سره مخ کړې دي.

اوس اسلامي امارت هڅه کوي چې له يوه لوري ددې ستر او پرمنفعته کان د استخراج عملي چارې پيل کړي، له بل پلوه غواړي هغه لرغوني اثار چې د لېږد وړ دي، له دې ځايه خوندي ځای ته ولېږدوي او کوم اثار او لرغوني ښارونه چې لېږد يې امکان نه لري، د کان د استخراج تر څنګ پر خپل حال پاتې شي.

اوس د عينک مسو کان قراردادي شرکت تر ځمکه لاندې کان کيندنې طرحه جوړه کړې ده. ددې طرحې له مخې به ياد شرکت وکولای شي چې معدني مواد استخراج خو دلته پراته لرغوني ښارونه به پر خپل ځای وي. له دې څخه معلومېږي چې اسلامي امارت نه غواړي هغه لرغوني اثار چې تېر تمدنونو او د هغه مهال د وګړو هنرونه په ډاګه کوي، له لاسه ورکړي. ددې له پاره يې ټولې هڅې پر دې ور ټولې کړې دي چې د کان ايستلو پروژې ترڅنګ خپل لرغوني فرهنګ هم خوندي وساتي. همدې ټکي ته په کتو يې اوس يې پر دغه طرح بحث کړی او د طرحې د مثبتو او منفي اړخونو له څېړنې وروسته به يې عملي کړي او هم به د دې ستري پروژې چارې پيل کړي.

## د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان لمريز کال د جدي مياشتې په دريېمه نېټه د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د ټاکل شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

د اقتصادي کمېسيون يادې غونډې ته د MCC چينايي شرکت له لوري د مس عينک کان د انکشاف او همدارنګه د پروژې د ژر پيل لپاره د ځمکې لاندې کان کيندنې په مېتود نوې طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. په غونډه کې تر مفصل او هراړخيز بحث وروسته د کانونو او پټروليم وزارت په مشرۍ بين‌الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د وړاندې شوې طرحې په اړه له قراردادي شرکت سره تخنيکي ناستې ترسره او خپل راپور دې اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.

په ياده غونډه کې همدا راز د کانونو او پټروليم وزارت له لوري د قشقري نفتي او ګازي بلاک د قرارداد وضعيت څېړلو راپور هم وړاندې شو. وړاندې شوی راپور له ارزونې وروسته تاييد او د کانونو او پټروليم وزارت په مشرۍ بين الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو په هېواد کې د مازوت نفتو د تصفيه خونې جوړولو په برخه کې پانګوال جذب او په ټولو معيارونو برابره تصفيه خونه جوړه کړي.

د اقتصادي کمېسيون په ياده نوبتي غونډه کې د بدخشان

ولايت له بهارک څخه تر اشکاشم ولسوالۍ پورې د غځېدلي سړک د پاتې ۲۰ سلنه چارو د بشپړولو لپاره د مالي سرچينې پيدا کولو موضوع هم د بحث لپاره وړاندې شوه. په غونډه کې تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه څو د ټولګټو وزارت د يادې پروژې دټولو تخنيکي او مالي اړخونو ارزونه ترسره او خپل راپور دې د اقتصادي معاونيت له مقام سره شريک کړي. دغه سړک ۱۵۰ کيلومتره اوږدوالی لري چې ۸۰ سلنه چارې يې بشپړې شوې دي.

په ياده غونډه کې همدا راز د نفت او ګازو دولتي شرکت، نورم او ستندرډ ملي اداري او ملي تدارکاتو رياست له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د دولتي ادارو د تېلو د هغو قراردادونو په هکله چې اټکلي قيمت يې تر ۲۰ ميليونو افغانيو زيات وي، په دې اړه ګډې تخنيکي ناستې ترسره او خپل راپور د اقتصادي معاونيت له مقام سره شريک کړي.

د اقتصادي کمېسيون په ياده نوبتي غونډه کې د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو په تړاو د مشرقي ولايتونو د ولسوالو غوښتنې هم د بحث لپاره وړاندې شوې. تر مفصل بحث وروسته ټاکل شوې بين الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د يادې موضوع هراړخيزه ارزونه ترسره او خپل راپور د اقتصادي معاونيت له مقام سره شريک کړي.



## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د خصوصي سکتور له استازو سره وکتل

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترانسپورټ او هوايي چلند او صنعت او سوداګرۍ د محترمو وزيرانو په حضور کې، د روان کال د جدي په دوهمه نېټه د مالیې وزارت او خصوصي سکتور له استازو سره وکتل.

په دغه ليدنه کې د بار وړونکو ترانسپورټي شرکتونو له لوري تر ټاکل شوې اندازې د زياتي کرايې اخيستلو، د هېواد په ټولو ګمرکونو کې د بار وړونکو موټرونو د نوبت د تنظيم او همدارنګه د مالیې وزارت له لوري د ملي سوداګرو او صنعتکارانو د مالياتي اسنادو د بررسۍ په اړه هراړخيز بحث وشو.

تر هراړخيز بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د اقتصادي معاونيت د استازي په مشرۍ دې د مالیې، صنعت او سوداګرۍ، ترانسپورټ او هوايي چلند وزارتونو، د سوداګرۍ او پانګونې او همدارنګه د صنعت او معدن خونو له استازو څخه جوړه شوې کمېټه د بار وړونکو ترانسپورټي شرکتونو له لوري تر ټاکل شوې اندازې د زياتي کرايې اخيستلو او نوبت په اړه د شته ټولو ستونزو د ارزونې په موخه د هېواد لويو ګمرکونو ته سفر وکړي او خپل راپور دې د اقتصادي معاونيت له مقام سره شريک کړي. همدارنګه پرېکړه وشوه څو د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ د بار وړونکو ترانسپورټي شرکتونو لپاره د کرايې ټاکلو کمېټې ته د سوداګرۍ او پانګونې خونې استازی هم د دايمي غړي په توګه ور معرفي شي.

په غونډه کې تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت مکلف دی څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه د هدايت پر اساس په ټولو ګمرکونو کې د بار وړونکو موټرونو لپاره د نوبت په موخه جوړ شوی طرزالعمل په جديت سره په دواړو ډول تطبيق کړي.

د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې د مالیې وزارت له لوري د ملي سوداګرو او صنعتکارانو د مالياتي اسنادو د بررسۍ کمېټه کې دې د اقتصادي معاونيت استازی هم د غړي په توګه ګډون وکړي او کمېټه دې خپل راپور د اقتصادي معاونيت له مقام سره شريک کړي.



## د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د دفتر عمومي رئيس له يوشمير ملي سوداګرو سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د دفتر عمومي رئيس او د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال سلاکار د روان لمريز کال د جدي مياشتې په پنځمه نېټه له يوشمير ملي سوداګرو سره په مرمرينه ماڼۍ کې وکتل. په دغه ناسته کې د توليد او پروسس په موخه د فابريکو جوړولو لپاره د ځمکو ترلاسه کولو، سوداګريزو جوازونو او پر ځينو خوراکي توکو باندې د تعرفې لوړېدلو په برخو کې خپلې ستونزې شريکې کړې. د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د دفتر عمومي رئيس ملي سوداګرو ته د يادو ستونزو د حل ډاډ ورکړ او زياته يې کړه چې ذکر شوې ستونزې به له اړوندو وزارتونو او ادارو سره شريکې کړي او په ګډه به حل لارې ورته پيدا کړي.



# د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه



د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه هراړخيز بحث وشو. دغې ناستې ته د اوبو او انرژۍ وزارت له لورې د ټاپ پروژې د سکرټريټ د جوړېدو، د فراه ولايت د قومي مشرانو له لورې د بخش آباد بند د تونلونو چارو تر بشپړېدو مخکې د ياد بند د کاسې جوړولو چارو پيلېدو پر غوښتنې، له فتحې مخکې د پارنده پنجشير مايکروهايدل او چک بربېښنا بند د پاتې انوايسونو د اجراء او د سيلوګانو لپاره د غنمو د پېرلو پر کړنلارې هر اړخيز بحث وشو. تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې ياد موضوعات دې د تخنيکي کمېټې د نظرونو په نظر کې نيولو سره د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته وړاندې شي.

# ده ها شرکت داخلی و خارجی خواستار سرمایه گذاری در حدود ۱۰ میلیارد و ٦٥٤ میلیون دالر گردیده اند



# نقش اقتصاد در رفاهٔ همگانی



نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

به صورت عموم، علم اقتصاد مطالعه بر سر این مسئله است که انسان در مواجه شدن به «کمبود» چه تصمیماتی را اتخاذ کند. این تصمیمات می تواند، فردی، خانواده گی و یا اجتماعی باشد. اگر شما با چشم باز به اطراف خود نگاه کنید متوجه می شوید که "کمبود" یکی از واقعیت های زنده گی است. "کمبود" یعنی که انسان محصولات، خدمات و منابعی را می خواهد که اکثراً در دسترس نمی باشد. منابع مانند کارگر، ابزار، زمین و مواد خام اولیه برای تولید محصولات و خدمات مورد نیاز ما به حد محدود در دسترس می باشد. البته ترس اصلی در خصوص منابع مربوط به زمان است. هر شخصی فقیر و غنی، فقط ۲۴ ساعت یک روز را برای تلاش به رسیدن به آنچه که نیاز دارند، وقت دارند. در هر لحظه ای از زمان میزان محدودی از منابع در دسترس قرار دارد. از اینرو باید کمبود رفع گردد.اقتصاد به دنبال درک و رفع مشکل کمبود است، یعنی زمانی که خواسته های انسان برای کالاها و خدمات از عرضه موجود فراتر رود، اقتصاد مدرن تقسیم کار را به نمایش می گذارد، که در آن افراد با تخصص در آنچه تولید می کنند عاید کسب می کنند و سپس از آن عاید برای خرید نیازمندیهای و یا خواسته های خود استفاده می کنند. یک اقتصاد بر پایه های وسیع، سنگ زیرین یک جامعه مرفه را تشکیل می‌دهد و به افراد، اجتماعات و کشور ها فرصت‌ها، پایداری و بهره برداری عمومی را می‌بخشد. در محیط و جهانی که ارتباطات بین‌المللی روز تا روز در حال گسترش است، درک اهمیت یک اقتصاد قوی برای افراد، اجتماعات و کشور ها بسیار حیاتی است. از اینرو خواستیم تا پیرامون اهمیت یک اقتصاد قوی و نقش آن در رفاهٔ عمومی نکاتی را جهت ارضای حس کنجکاوی علاقمندان پیشکش نماییم که در نوشته حاضر به آن می پردازیم.

## اهمیت اقتصاد متکی بر پایه های وسیع

در دنیایی که همگان به دنبال جهانی شدن بسیاری از امور است، یک اقتصاد قوی به عنوان عاملی مهم در پیشرفت تمامی ابعاد به شمار میرود و به واحد های سیاسی کمک می‌کند تا چالش ها را از میان بردارند، اجتماعات را رونق بیشتر دهند. به شهروندان‌شان کیفیت زنده‌گی بهتری عرضه دارند، که در ذیل به دلایل عمدهٔ اهمیت یک اقتصاد قوی برای یک جامعه می پردازیم:

### ایجاد اشتغال و فرصت‌های اقتصادی

یک اقتصاد خوب، فرصت‌های شغلی را ایجاد کرده و نرخ بیکاری را کاهش می‌دهد و استقلال مالی را ترویج می‌کند. با رشد کسب و کارها، شغل های جدید ایجاد می‌شوند و افراد را قادر می سازند تا به طور معناداری در جامعه مشارکت کنند. اشتغال دوامدار، بهبود رفاه شخصی را نه تنها ارتقا می‌دهد، بلکه همبستگی اجتماعی را ترویج می کند و نابرابری عواید را کاهش می‌دهد. علاوه بر این، تنوع فرصت‌های شغلی به افراد اجازه می‌دهد تا پتانسیل(انرژی و توان) خود را بررسی کرده، به علاقه‌مندی‌های خود پی ببرند و به رشد کلی اقتصاد کمک کنند.

### خلاقیت در پیشرفت تکنالوژی

یک اقتصاد قوی نوآوری و پیشرفت‌های تکنالوژی را تشویق می‌کند و پیشرفت را در بخش‌های مختلف ایجاد می‌کند. وقتی کسب و کار رونق پیدا می‌کنند، سرمایه‌گذاری تقویت میآید که این مسئله به کشفیات برجسته و تکنالوژی های خلاقانه منجر می‌شود. خلاقیت یا نو آوری نه‌تنها به بهره برداری کمک می کند، بلکه رقابت‌پذیری را تقویت می‌کند و کشور ها را در صدر بازارهای جهانی قرار می‌دهد. با فراهم کردن محیط مساعد برای نوآوری، اقتصاد می‌توانند رشد نمایند، ایجاد شغل‌های با ارزش بالا و بهبود معیار های زنده گی شهروندان تحریک گردد.

### دسترسی به محصولات و خدمات ضروری

یک اقتصاد عملکرد خوب، در دسترس بودن و قابلیت دسترسی به کالاها و خدمات ضروری جهت تأمین نیازهای جمعی جامعه را تضمین می کند. از طریق ابزار تولید و توزیع بهتر آن، یک اقتصاد قوی کمبود ها را به حداقل می‌رساند،



قابلیت قیمت‌های مناسب را ترویج می کند و کیفیت عمومی زنده گی را بهبود می‌بخشد، یک اقتصاد قوی به جوامع اجازه می‌دهد تا نیاز های اساسی شهروندان خود را برآورده کنند و استقرار پایدار اجتماعی را ترویج و به وجود آورد و به افراد کمک می کند تا موفق شوند.

**پایدار بودن و انعطاف پذیری اقتصادی**

یک اقتصاد قوی پایداری و انعطاف‌پذیری را در مقابل نوسانات و بحران های جهانی فراهم می کند. بخش‌های اقتصاد متنوع و سیستم‌های مالی قوی به کاهش تأثیرات شوک‌ها یا ورشکسته گی های اقتصادی کمک می‌کند. یک اقتصاد مدیریت‌شده به خوبی با سیاست‌های مالی صحیح و مقررات با ارزش، پایداری را فراهم می سازد و سرمایه‌گذاری و رشد اقتصادی را تشویق می‌کند و به رونق بلندمدت و به حداقل رساندن تأثیر رکود های اقتصادی کمک می کند.

**رفاهٔ اجتماعی و منابع دولتی**

یک اقتصاد رونق‌بخش منابع دولتی را تقویت می کند و امکان سرمایه‌گذاری در پلان های رفاهٔ اجتماعی، توسعه زیربناها و خدمات عمومی را فراهم می‌سازد. با پایه‌ای قوی عواید، دولت‌ها قادر خواهند بود از منابع مالی برای آموزش، صحت، کاهش فقر و بخش‌های بحرانی دیگر استفاده کنند. رشد اقتصادی سبب تحصیل بیشتر عواید مالی گردیده که دولت‌ها را قادر می سازد تا خدمات ضروری، را انجام دهند. یک اقتصاد قوی، دولت‌ها را قادر می‌سازد تا جامعه جامع و عادلانه‌ای را به وجود آورند و یا به ترویج گیرند، همبستگی اجتماعی را تقویت کنند و بهبود کلی رفاه عمومی را فراهم سازند.



**نتیجه‌گیری**

اهمیت اقتصاد در جامعه پوشیده نیست، یک اقتصاد قوی فرصت‌های شغلی را ایجاد می‌کند، نوآوری را تشویق می‌کند، دسترسی به محصولات و خدمات ضروری را تأمین می‌کند، پایداری را فراهم می‌کند و منابع دولتی را تقویت می‌کند. به عنوان افراد، اجتماعات و کشور ها باید اقتصادی را که چگونه ما را به پیشرفت می کشاند، بشناسیم و توسعه دهیم. با ایجاد محیطی که کار آفرینی، سرمایه‌گذاری و نوآوری را تشویق می‌کند، می توانیم یک جامعه شکوفا و مترقی را ایجاد کنیم که فرصت‌ها را فراهم می‌کند و کیفیت زندگی همه اعضای آن را بهبود می‌بخشد.

## په کابل ښار کې تر اوسه پورې ۴۷۸۲۰ سوالګر راټول شوي دي

د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري د روان ۱۴۰۲ لمريز کال د جدي مياشتې تر ۰۸مې نېټې د کابل ښار له بېلابېلو سيمو ۴۷۸۲۰سوالګر راټول شوي او دا لړۍ ادامه لري.

تر دې دمه پورې په راټول شويو سوالګرو کې ۱۴۸۰۵ ښځينه، ۷۴۸۳نارينه او پاتې ۲۵۵۳۲ ماشومان دي. له مستحقو سوالګرو سره د افغانستان اسلامي امارت له لوري دوامداره نغده مرسته کيږي او بې سرپرسته سوالګر ماشومان له بايوميټريک وروسته د کار او ټولنيزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخليږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعليم زمينه برابرېږي.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سراې کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۰,۱۵ | ؋۷۰,۲۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲٤۰ | ؋۲٤۱ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,٤۰ | ؋۱,٤۲ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۷,۳۰ | ؋۷۷,۵۰ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,٦٦ | ؋۰.۷٦ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۸۲۹ | ؋۸۳۹ |
| ۱ | انګليسي پوند | ؋۸۹,۳۷ | ؋۸۹,٤۳zz |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۸,۵۷ | ؋۱۸,٦۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹.۱۰ | ؋۱۹.۲۰ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۸۷ | ؋۹,۹۷ |